NHS

UK Health Security Agency

# ټي بي، بي سي جي واکسین

## او ستاسي ماشوم



immunisation

the safest way to protect your child

**دغه لیفلیټ د بی سي جي BCG (Bacillus Calmette-Guérin) د واکسینو په هکله دی کوم چي ستا ماشوم له نري رنځ (TB) څخه د ژغورلو لپاره درکول کیږي.**

## بي سي جي BCG واکسین څه شی دی؟

بي سي جي واکسین د هغو باکتریاوو (جراثیمو) یو کمزوری کړای شوي بڼه ده چي د نري رنځ سوب ګرځي. ځکه چي دا خو کمزوري کړای شوي وي نو نری رنځ نه رامنځته کوي، مګر ستاسي له ماشوم سره مرسته کوي چي د نري رنځ خلاف پیاوړی شي که چیرې کوم وخت ورسره مخامخ شي.

بي سي جي واکسین په ځانګړې توګه د وړو ماشومانو او لویانو ماشومانو لپاره ډېر اغېزمن دي چي له سخت ډوله نادر نري رنځ څخه یې وژغوري لکه ټي بي منینجایټس (چي د مغزو کړښې ورسره پړسېږي)

## نری رنځ (ټي بي) (TB) څه شی دی؟

ټي بي یو باکټوریایي لګېدنه ده، کوم چي عموماً پر سږیو باندي اغېزه کوي مګر د بدن پر نورو برخو باندي هم اغېزه کولای شي. د ټي بي جراثیمو له لګېدلو ضرورري نه ده چي نری رنځ ورڅخه جوړ شي. دغه ناروغي ورو ورو په بدن کښي خورېږي، او د علاماتو راڅرګندېدل یې څو میاشتې وخت اخلي.

اکثر خلک چي ټي بي یې اخیستلې وي خو د نري رنځ ناروغي به کله هم پرې و نه لګېږي. په دغو خلکو کښې د ټي بي جراثیم د ټول ژوند لپاره غیرفعاله اوسي. په نورو خلکو کښې (د بېلګې په توګه، هغه خلک چي کمزوری مقاومت لري) د نري رنځ جراثیم فعال کېدلای شي او د ټي بي په ناروغئ اوبنتلای شي. په دې هیواد کښې اکثر خلک له درملنې پسته په بشپړه توګه رغېږي، مګر په دې کار باندي څو میاشتې وخت لګېږي.

## د ټي بي علامات څه دي؟

ټي بي د بدن هره برخه باندي اغېزه کولای شي.
علامات توپير لري او د يوه ماشوم د ناروغۍ علامات
د يوه لوی کس له هغو څخه کېدلای شي چي بدل وي.
ځکه چي ټي بي له يوه بل څخه اخيستل کيږي، نو دا
مهمه ده چي تاسو په نورو کسانو کښې دغه ناروغي
وپېژنې.

ته بايد ډاکټر ته خبر ورکړې که ته، ستا ماشوم، ستا د
کورنۍ کوم غړی، يا دوست دغه لاندي علامات ولري:

- پرلپسې ټوخی چي تر 2 اونيو زيات وخت پاته شي.
- تبه
- خولې کېدل، په تېره بيا د شپې مهال
- بې سوبه د وزن کمېدل
- يو ماشوم چي وزن يې وده نهٔ کوي
- عمومي او غير عادي د ستړيا احساس او ناروغه کېدل
- په ټوخي کښې د وينې راتلل

## ټي بي څرنګه لګيږي؟

ته له هغه چا ټي بي اخيستلای شې چي لالمخه يې سږي
يا غاړه په دغه رنځ اخته وي او چې زيات ټوخيږي.
کله چي هغوی ټوخيږي، نو داسي واړه واړه څاڅکي
شيندي چي باکتريا لري. که يوڅوک دغه څاڅکي له ساه
سره واخلې نو هغهٔ هم دغه ناروغي اخيستلای شي. هغه
وخت په ناروغۍ د اخته کېدلو خطره وي کله چي له يوه
اخته شوي کس سره په بند ځای کښې په ګډه واوسيږي،
د بېلګې په توګه په يوه کور کښې ورسره اوسېدل.

## ټي بي څومره عامه ده؟

په 1950 کلونو کښې په برتانيې کښې د نري رنځ 50,000 نوې پېښې به هرکال کېدلې. اوس دغه شمېره هر کال فقط 5,000 ته راټيټه شوې ده. نو که تا ته د ټي بي د لګېدلو امکان کم دی، خو بيا هم هرچاته پکار ده چې د ټي بي د علاماتو په باره کښې اګاهي ولري.

دا ځکه ډېره مهمه ده چې ټي بي په ټوله نړۍ کښې خوره وره ده.

په هغو خلکو کښې د دغې ناروغۍ خطر زيات دی چې په داسي هيوادونو کښې اوسېدلي وي يا يې کار کړی وي چېرته چې د ټي بي کچه ډېره لوړه ده. د هغو کورنيو ماشومان هم کېدلای شي د خپلې کميونيټۍ له اخته شويو کسانو سره نيژدې تماس ولري، هم په برتانيې کښې او هم په خپل اصلي هيواد کښې.

## زما ماشوم ته ولې بي سي جي ورکول کېږي؟

لکه د نورو هيوادونو په شان، په برتانيې کښې هم بي سي جي هغو ماشومانو ته ورکول کېږي چې له يو داسي کس سره کېدلای شي وخت تېروي چې ټي بي لري. په دغو کښې هغه ماشومان شامل دي چې لوړې کچې د ټي بي په سيمو کښې اوسېږي يا هغه ماشومان چې مورپلا يا نيکه او نيا يې د لوړې کچې د ټي بي له سيمو څخه وي. (د نورو معلوماتو لپاره وګورئ 7 مخ)

## زما ماشوم څرنګه خوندي ساتل کېږي؟

ستا ماشوم ته به د کيڼ لاس په مټه باندي بي سي جي واکسين ورکول کېږي.

واکسين ژر له زوکړې وروسته ورکول کېږي، عموماً له زوکړې 28 روځې پسته.

## ایا کومې اړخیزې اغېزې لري؟

له پیچکارۍ سملاسي وروسته به یوه تناکه راښکاره شي. چي دا څرګندوي چي پیچکاري په سمه توګه وهل شوې ده.

د پیچکارۍ له دوو څخه بیا تر شپږو اونیو پوري به یو کوچنی داغ راڅرګند شي. کېدلای شي چي تریوڅو روځو پوري ښه خوږ ولري، مګر که یې پټ و نه ساتئ نو سوکه سوکه به پخپله جوړ شي. کېدلای شي چي یو داغ پاته شي. دا عادي وي.

کله کله داسي هم کېدلای شي چي ستا د ماشوم په هغه ځای کښې یو لږ ژور زخم جوړ شي چېرته چي پیچکاري ورته لګېدلې وي. که چیري دا یو بهېدونکی نو وي نو پکار ده چي پټ کړل شي، وچه پټۍ وکاروئ – خو پلستر هیڅ کله نه - ترڅو وچ خیږ ونیسي. د دغه زخم به رغېدلو کېدلای شي څو میاشتې وخت ولګېږي.

که چیري ته پرېشان یې یا فکر کوي چي زخم دي ګزک نیولی دی، نو له ډاکتر سره وګوره.



## آیا داسي کومه وجه شته چي زما ماشوم باید بي سي جي واکسین وا نخلي؟

د نورو واکسینو په شان، دغه پیچکاري هم باید هغه وخت و نه وهل شي یا باید وځنډول شي که:

- ستا ماشوم لوړه تبه لري.
- ستا ماشوم د پوستکي په یوې عمومي ناروغۍ اخته وي. (که ایګزیما یعني سپوږې پرې لګېدلی وي، نو پیچکاري به پر هغه ځای ورته وهل کېږي چي خوږ نه وي.)

کله کله، هغه ماشومان چي مقاومت یې کمزوری وي، نو د واکسینو باکټریا یې په جدي توګه ورلګېدلای شي.

که ستا ماشوم کمزوری مقاومت لري یا ته داسي فکر کوې نو دا خبره ډېره مهمه ده چي نرس یا ډاکټر پرې خبر کړې. د بېلګې په توګه:

- که ماشوم د کېنسر یا نورو سختو ناروغیو له لاسه تر درملنې لاندي وي.
- که د ماشوم مور ته د امیدوارۍ په مهال ایمیونوسپریسیو بیالوجیکل تهیراپي ورکول شوې وي.
- که کورنۍ د مقاومت د ستونزو یو تاریخچه لري (لکه ایچ آی وي، شدیده مشترک مدافعتي کمزوري یا ایس سي آیی ډی)
- ماشومان چي ایس سي آیی ډی لري یا کېدلای شي چي و یې لري



## کوم ماشومان بي سي جي ته اړتیا لري

که چېرې په یوې داسي سیمې کښې نه اوسې چېرته چي ټولو ماشومانو ته بي سي جي ورکول کیږي نو بیا هم ستا ماشوم کېدلای شي چي دغه واکسین ته اړتیا لري.

که دغو لاندینیو پوښتنو کښې یوې ته هم ستا ځواب **'هو'** وي ، نو هرومرو له خپل ډاکټر یا نرس څخه د خپل ماشوم لپاره د بي سي جي په باره کښې پوښتنه وکړه.

- ایا دغه ماشوم، د ماشوم مور، پلار، یا نیانیکه، یا کوم بل کس چي له تاسي سره اوسیږي، له یوه داسي هیواد څخه دي چېرته چي د تې بي کچه لوړه ده؟
- آیا تاسو یا ستاسو ماشوم به دغو هیوادونو کښې په کوم یو کښې به اوسي او یا به له دوستانو او خپلوانو سره پاتې کیږي؟
- آیا داسي کوم څوک شته چي له تا سره اوسیږي، یا ستاسو له ماشوم سره زیات وخت تېروي، چي اوس تې بي لري یا یې پخوا لرله؟


د تې بي د لوړې کچې هیوادونو شمېرې له روغتیا نړۍ وال سازمان (ډبلیو ایچ او) څخه اخیستل کیږي پر:

**www.gov.uk/government/publications/tuberculosis-tb-by-country-rates-per-100000-people**



## آيا زه په کوم بل شي باندي پوهېدلو ته اړتيا لرم؟

ستا ماشوم عادي واکسين د 8 اونيو په عمر کښې شورو کولای شي دا پروا نه لري چي بي سی جي يې څه وخت اخيستلی دي. ته بايد ډاډ ترلاسه کړې چي ستا ماشوم ته پر همهغه لاس کښې بله پيچکاري ونه وهل شي پر کوم باندي چي د بي سي جي ورته وهل شوې وي کم ترکمه تر 3 مياشتو پوري؛ کنې د دغه ځای په غدودو کښې به پاړسوب پيدا شي.




دغه ډاډ ترلاسه کړه چي د بي سي جي واکسينو ريکارډ ستا د ماشوم په ځانګړي چايلډ هيلتهـ ريکارډ (سور کتاب) کښې د راتلونکي وخت د حوالې لپاره وليکل شي.

## نور معلومات

که تاسي د ټي بي، يا بي سي جي واکسينو يا نورو واکسينو باره کښې نور معلومات غواړئ نو له خپل ډاکټر، هيلتهـ ويزيټر، دايي يا نرسې سره خبرې وکوئ، يا زموږ وېبپاڼې ته ورشئ

**www.nhs.uk/conditions/vaccinations/ /bcg-tuberculosis-tb-vaccine**

**په ياد لره، د ټي بي درملنه زياته وخت نيسي، خو مخنيوی يې اسان دی.**

NHS

Crown copyright 2021 ©

2021SCTBPAS Pashto 75 2p Sept 2021 (APS).
لطفاً د طبي خپرونو اردر کولو يا ډاونلوډ کولو لپاره دلته ورشئ:
www.healthpublications.gov.uk
l: يا زنګ ووهئ: 0300 123 1002، 0300 123 1003 (سهار 8 بجو څخه د ماښام 6 پوري، له دوشنبې تر جمعې)

**www.nhs.uk/vaccinations**